د افغانستان اسلامي امارت

د ارشـــــاد، حــــج او اوقافـــــو وزارت

د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست

دجمعې ورځې د خطابت موضوع

او ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

۱۴/ ذی القعده/۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۱۱ / ثور/۱۴۰۵هـ، ش

# د سفر، اسلامي آداب او اخلاق، او د هغو اهميت د حج په سفر کې

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله حمداً مباركاً فيه كما يحب ربنا ويرضى، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:قال الله سبحانه عزوجل:(هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ذَلُولاً فَامْشُوا فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُوا مِنْ رِزْقِهِ وَإِلَيْهِ النُّشُورُ) الملك: (۱۵)

**درنو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله تعالی دې وکړي، چې روغ صحت ولرى او ورځې او شپې مو په عافيت کې تيريږي.

**محترمو اوريدونکو!**

د اسلام مبارک دين د ژوند د هر حالت لپاره ځانګړي احکام وضع کړي دي، ترڅو د مسلمان ژوند قيمتي شي، چې ددغو حالاتو له جملې څخه يو هم د سفر حالت دی . خصوصاً د حج د سفر لپاره عالي اخلاقو او غوره آدابو ته پاملرنه زيات اهميت لري.

انسانان د مختلفو غرضونو لپاره سفرونه کوي؛ لکه د سياحت لپاره سفر، د علم زده کړې لپاره سفر، د مور او پلار يا خپلوانو ملاقات لپاره سفر ، د تجارت او کسب لپاره سفر، دعلاج او تداوۍ لپاره سفر ، د بيت الله د حج او د نبي عليه السلام د زيارت لپاره سفر اوداسې نور؛ چې په دغو سفرونو کې علاوه د مباح سفر څخه نور ټول ديني او شرعي سفرونه دي او له ثواب او اجر څخه خالي نه دي، په دې شرط چې اخلاص په کې موجود وي.

مباح سفر لکه سياحت او چکر که چيرې د تجاربو د کسبولو او د عبرت حاصلولو لپاره وي، هغه هم په شريعت کې يو مطلوب سفر دی. الله تعالی فرمايي:(قُلْ سِيرُواْ فِي الأَرْضِ ثُمَّ انظُرُواْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ). الانعام: (۱۱)

ترجمه: ووايه (ای محمده! دوی ته که دوی نه وي قائله په هلاک د پخوانيو قرنو) و ګرځئ تاسې په ځمکه کې بيا وګورئ چې څرنګه وو عاقبت (خاتمه) د دروغجن ګڼونکو (د رسولانو).

که څه هم سـفر د مشـقتونو مجموعه ده او په حديث شريف کې ورته د عذاب ټوټه ويل شـوې ده. نبي عليه السـلام فرمايلي دي:(السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنْ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ).متفق عليه

ژباړه: سفر يوه ټوټه د عذاب ده، منع کوي يو له ستاسې څخه د خپل خوراک څخه او څښاک خپل څخه او دخوب خپل څخه.

حافظ ابن حجررحمه الله وايي: يعنې سـفر د عذاب جزء دی او مراد دعذاب څخه هغه درد دی چې د مشـقت څخه راپيدا کيږي . فتح الباري(٦/ ١٠)

خو بيا هم سـفرونه کول زيات فوائد لري، لکه د غمونو او سـتړتيا کمول، د مال کسـبول او تجارت کول، د علم ترلاسـه کول، د سـترو او لويو شـخصـيونو سره ملګرتيا او ملاقات، د بدن صـحت لکه چې په حديث شريف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ« سَافِرُوا تَصِحُّوا وَاغْزُوا تَسْتَغْنُوا» مسند أحمد (١٤/ ٥٠٧)

ژباړه: د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې بيشـکه نبي عليه السـلام وفرمايل: سـفر وکړئ چې صحت ياب شئ او غزا وکړئ چې غنيان شئ.

پرته د ګناه د سـفر څخه نور سـفرونه ځانګړي اخلاق او آداب لري چې ددغو آدابو او اخلاقو رعايتول په ځينو سـفرونو کې واجب دي او ځينو سفرونو کې سُنت دي او په ځينو سفرونو کې مستحب دي او د اسلام غوره اخلاق دي.

د سفر اسلامي آداب او اخلاق په لاندې ډول دي:

**١-مخکې له سـفر کولو څخه د مشرـانو او بزرګانو او اصـحاب الفضل سره مشوره کول .** کله چې څوک وغواړي چې سفر وکړي، د هغه لپـاره مسـتحـب دي چې د هغه چا سره مشـوره وکړي چې د هغه په ديانت باندې باوري وي، ترڅو د هغه له تجربې، معلوماتو او پوهې څخه اسـتفاده وکړي او له هغه څخه دې دعاء هم وغواړي. په مسـتشـار باندې لازم دي چې نصيحت او لارښـوونه ورته وکړي او دعاء هم ورته وکړي. الله تعالی د مشورې اخيستلو په اړه نبي عليه السلام ته فرمايي:( وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ)آل عمران: (١٥٩)ترجمه:او مشوره وکړه دوی سره (په کار) امر کې.

همدارنګه په بې شـميره احاديثو کې راځي، چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم به د خپلو اصـحابو سره په کارونو کې مشـوره کوله.

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسٍ قَالَ:جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ -؛ فَقَالَ: يَا رَسُـولَ اللَّهِ! إِنِّي أُرِيدُ سَـفَرًا فَزَوِّدْنِي. قَـالَ: «زَوَّدَكَ اللَّـهُ التَّقْوَى». قَـالَ: زِدْنِي. قَـالَ: «وَغَفَرَ ذَنْبَـكَ». قَـالَ: زِدْنِي بِـأَبِي أَنْـتَ وَأُمِّي. قَـالَ: «وَيَسَّرَـ لَـكَ حَيْثُ مَا كُنْتَ». صحيح ابن خزيمة ط ٣ (٢/ ١٢١٠)

ژباړه: د حضرـت انس رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې راغی يو سـړی نبي عليه السـلام ته او ورته يې وويل: ای دالله رسـوله! زه اراده د سـفر لرم ، نو ماته توښـه راکړه(يعنې دعاء راته وکړه) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: الله تعالی دې تاته پـه توښـه کې درکړي تقوی. بيـا هغـه سـړي وويل: ماته توښــه راکړه، (يا نوره دعاء هم راته وکړه ) نو نبي عليه السـلام ورته وفرمايل: او (الله تعالی) دې وبښـې تاته سـتا ګناه . بيا هغه سـړي وويل: ماته توښه راکړه (يا نوره هم زياته دعاء راته را کړه ) زما پلار او مور دې له تا قربان شي. نبي عليه السلام ورته وويل: او (الله تعالی) دې اساني په برخه کړه هر چيرې چې وې.

**۲-د سفر څخه مخکې داستخارې لمونځ کول.** کوم سفر چې فرض او واجب نه وي، نو دداسې سفر څخه مخکې دوه رکعته صلاة الاستخاره لمونځ کول مستحب عمل دی. په صلاة الاستخاره کې دا شرط نه ده چې کومه مثبته علامه دې ووینې.

**۳-د حج او عمرې د سفر پر وخت باید د خلکو امانتونه خپلو مالکانو ته وسپاري.** کله چې څوک په سفر ځي، په خاصه توګه هغه څوک چې حج ته ځي، نو په کار ده چې لومړی د ټولو ګناهونو او ناوړه او مکروهه اعمالو څخه توبه وباسي. او ځان د خلکو دحقوقو څخه پاک کړي، امانتونه خپلو مالکانو ته وسپاري ، که چیرې پرچا یې ظلم کړی وي لکه هغه څخه دې ببښنه وغواړي او له چا سره چې معاملات او یا ملګرتیا ولري په کار ده چې له هغوی څخه د هغوی د حقوقو ببښنه وغواړي او ددعاء غوښتنه ور څخه وکړي. په ځانګړې توګه د خپل مور او پلار څخه دې اجازه واخلي او د هغوی رضایت دې ترلاسه کړي.همدارنګه په کار ده چې وصیت ولیکي او د حقدارانو په اړه په کې معلومات ثبت کړي . همدارنګه د خلکو قرضونه دې اداء کړي او که د کوم چا قرض پاتې شو د هغه په اړه به وصیت ولیکي . په کارده چې د خپلې کورنۍ د خلکو لپاره نفقه او خرچه پریږدي.

**۴-د کورنۍ ، ګاونډیانو او دوستانو څخه رخصتي اخیستل:** مستحب ده، چې د خپلې کورنۍ ، اهل او ټولو خپلوانو، ګاونډیانو او دوستانو څخه رخصتي واخلي او ددوی دعاګانې کسب کړي . د کورنۍ خلکو ، ګاونډیانو او دوستانو ته په کار دي چې مسافر ته دعاء وکړي او داسې ورته ووايي:( أَسْتَوْدِعُ اللَّهَ دِينَكَ وَأَمَانَتَكَ وَخَوَاتِيمَ عَمَلِكَ) یا دې ورته داسې ووایې: (زَوَّدَكَ اللَّهُ التَّقْوَى وَغَفَرَ لَكَ ذَنْبَكَ وَيَسَّرَ الْخَيْرَ لَكَ حَيْثُمَا كُنْتَ).

**۵- د کور څخه د وتلو او سپرلۍ ته د ختلو دعاء :** دا سُنت ده چې کله له کورڅخه د سفر په لور وځي، دا دعاء دې ووايې:( بِاسْمِ اللَّهِ ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ ، وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إلا بِاللَّهِ).او کله چې سپرلۍ ته (موټر، طیارې) ته وخیژي ، نو سُنت داده چې دا دعاء ولولي: «الْحَمْدُ لِلَّهِ سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ»بیا به در ځله (الْحَمْدُ لِلَّهِ) ووايې، بیا به وروسې درځله (اللَّهُ أَكْبَرُ ) ووايي ، بیا به دا دعاء ووايي: ( اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرَّ وَالتَّقْوَى وَمِنْ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللَّهُمَّ هَوِّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا ، وَاطْوِ عَنَّا بُعْدَهُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الصَّاحِبُ فِي السَّفَرِ ، وَالْخَلِيفَةُ فِي الأَهْلِ ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السَّفَرِ ، وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ ، وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالأَهْلِ). مسند أحمد (۱۰/ ٤٤٠)

**٦-د سفر د لګښتونو لپاره حلال او پاکیزه مال او پیسې له ځان سره اخیستل :** څوک چې سفر کول غواړي په کار ده، چې د سفر مصارف یې حلال وي، خصوصاً د حج او عمرې سفر ، ځکه چې حج او عمره یا جهاد عبادات دي او الله تعالی هغه عبادت قبلوي چې په پاکیزه مال سره اداء شوی وي. په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:«أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ اللهَ طَيِّبٌ لَا يَقْبَلُ إِلَّا طَيِّبًا» صحيح مسلم (۲/ ۷۰۳)

ژباړه: د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای خلکو! بیشکه الله تعالی پاکیزه دی، نه قبلوي مګر پاکیزه (مال ).

که څوک د غلا ، رشوت، غصب ، سود یا بل قسم حرام مال باندې حج یا بل کوم عبادت کوي، نو دده حج نه قبلیږي ، اګر چې په ظاهر کې یې حج یا عمره صحیح ده.

په بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا خَرَجَ الرَّجُلُ حَاجًّا بِنَفَقَةٍ طَيِّبَةٍ، وَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادَى: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَلَالٌ، وَرَاحِلَتُكَ حَلَالٌ، وَحَجُّكَ مَبْرُورٌ غَيْرُ مَأْزُورٍ، وَإِذَا خَرَجَ بِالنَّفَقَةِ الْخَبِيثَةِ، فَوَضَعَ رِجْلَهُ فِي الْغَرْزِ، فَنَادَى: لَبَّيْكَ، نَادَاهُ مُنَادٍ مِنَ السَّمَاءِ: لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَعْدَيْكَ، زَادُكَ حَرَامٌ وَنَفَقَتُكَ حَرَامٌ، وَحَجُّكَ غَيْرُ مَبْرُورٍ»مسند البزار (۱۵ /۲۲۱) ، المعجم الأوسط (٥ /۲٥۱)

ژباړه: د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې نبي عليه السـلام وفرمايل: کله چې يو څوک د پاکيزه مال سره د حج لپاره ووځي او خپله پښـه په زين کې کيږدي او آواز وکړي چې:( لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ) نو د آسـمان څخه يو آواز کوونکی داسـې آواز وکړي: ( لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، نفقه دې حلاله ده او سـپرلی دې هم حلاله ده او حج دې قبول شـوی دی او ګناه په کې نشـته. او کلـه چې څوک دحج لپـاره پـه حرام او خبيـث مال او نفقې سره ووځي او خپله پښـه په زين کې کيږدي او بيا داسـې آواز وکړي :(لَبَّيْكَ)، نو دآسـمان څخه يو آواز کوونکی آواز وکړي:( لَا لَبَّيْكَ وَلَا سَـعْدَيْكَ . توښـه دې حرامه ده او نفقه دې هم حرامه ده، او حج دې قبول شوی نه دی.

**٧-د مسلمانانو له ټولې او جماعت په ملګرتيا کې سفر کول:**

د سـفر له غوره اخلاقو څخه دادي چې بايد د مسـلمانانو د جماعت په ملګرتيا کې سـفر وکړي او د يواځې سـفر کولو او يا د ملګرو څخه د جداکيدلو څخه ځان وسـاتي .که څوک د سـفر اراده ولري ، نو مسـتحب داده چې دملګرو سره سـفر وکړي او د تنهايی سـفر کولو څخه دې ډډه وکړي. په دې کې حکمت دادی چې سـفر ډيری مشـکلات لري لکه مريضي.، د لارې سره نا اشـنايي، د سـفر له شرائطو سره نااشـنايي. نو د ملګرو په سـفر کې دا ګټه ده چې هغوی به ورسره مرسـته کوي ، لاره به ورته ښـايې، د لارې له شرائطو به يې خبروي . خصوصاً د حج سـفر، د حج په سفر کې ضرور بايد حاجي د خپل ګروپ سره سفر وکړي او په دې کې بې شـميره ګټې دي. په حديث شريف کې راځي: عن بنِ عُمَرَ رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسـلم : ( لَوْ أَنَّ النَّاسَ يَعْلَمُونَ مِنْ الْوَحْدَةِ مَا أَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ ).صحيح البخاري ت (٧/ ٥٣٥)، رياض الصالحين (ص: ٢٩٩)

ژباړه: د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه وايې چې رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم وفرمايل: که چيرې خلک پوهيدلی د يواځې (سفر په زيان باندې) څومره چې زه پوهيږم ، نو نه به وو تللی هيڅ سپور (سړی) په شپه کې يواځې.

او څوک چې د ملګرو سره په سـفر کې وُ ، نو کله چې په کوم ځای کې دمه وکړي او يا ورباندې شـپه راشي، نو ټولو ته لازم دي چې په يوځای واړوي او خواره واره نشي.

په دې خبره عمل کول حجاج کرامو لپاره ډيره ضروري ده. اکثره وخت کله چې حجاج د حج په سـفر کې د سـعودي عربسـتان په هوايي ميدانونو کې ښکته شي او په مدينه منوره کې يا مکه مکرمه کې تعميرونو کې ځای پرځای شي يا په منٰی کې يا په عرفات کې په خيمو کې ځای پرځای شي، نو ځينې حاجی صاحبان خپل ملګري پريږدي او په خپل سره د نورو ګروپونو سره يوځای کيږي او بسـونو ته خيژي يا خپل اطاق او تعمير پريږدي او بل اطاق يا بل تعمير ته په خپل سر ځي، يا خپله خيمه پريږدي او نورو خيمو ته ورځي، چې دا کار د حج د مسئولينو او معلمينو ته ډير زيات مشکلات پيښوي او خپله حاجي هم د ډيرو مشکلاتو سره مخ کيږي چې بيا هغه مشکلات ژر نه حل کيږي. په حديث شريف کې راځي: عن أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيُّ قَالَ كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلُوا مَنْزِلاً - قَالَ عَمْرٌو كَانَ النَّاسُ إِذَا نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- مَنْزِلاً - تَفَرَّقُوا فِي الشِّعَابِ وَالأَوْدِيَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ تَفَرُّقَكُمْ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَالأَوْدِيَةِ إِنَّمَا ذَلِكُمْ مِنَ الشَّيْطَانِ ». فَلَمْ يَنْزِلْ بَعْدَ ذَلِكَ مَنْزِلاً إِلاَّ انْضَمَّ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ حَتَّى يُقَالُ لَوْ بُسِطَ عَلَيْهِمْ ثَوْبٌ لَعَمَّهُمْ. سنن أبى داود-ن (٢/ ٣٤٥) قال النووي إسناد حسن. رياض الصالحين (ص: ٣٠١)

ژباړه: د حضرـت ابو ثعلبه خُشـني رضي الله عنه څخه روايت دی . هغه وايې مخکې به کله چې خلکو په يوځای کې واړول . په يو بل لفظ کې راځي: وو خلک چې کله به رسـول الله صـلى الله عليه وسلم په يوځای کې واړول، (خلک) به خپاره شول په مختلفو لارو کې او خپاره به شـول په خوړونوکې ، نو نبي عليه السـلام وفرمايل: بيشـکه خپاره کيدل سـتاسـې په بيلابيلو لارو کې او په خوړونو کې دا د شـيطان لـه طرفـه دي. نو لـه دې څخه وروسـته نه به تم کيده نبي عليه السـلام په يو ځای کې ؛ مګر داچې

صـــحابـه كرام به خپلو منځو کې راټوليدل او يو له بل سره به يوځای کيدل، آن تردې پورې چې که چيرې غوړول شـــوی وای پر دوی يو څادر، نو ټولو ته به رسيدلی ؤ.

همدارنګه کله چې يو څو کسـان په سـفر ووځي، نو په کار دي چې په دوی کې افضـل شخص په خپلو ځانونو باندې امير وګرځوي او د هغـه پيروي دي وکړي. د امير ټـاکـل شرعي او مســتحب امر دی او ډيری ګټې لري. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صـلى الله عليه وسـلم- قَالَ « إِذَا خَرَجَ ثَلاَثَةٌ فِى سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ ». سـنن أبی داود-ن (٣٤٠/٢).قال النووي: إسناد حسن. رياض الصالحين (ص: ٣٠١)

ژباړه: د ابو سـعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايې چې بيشـکه رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل: کله چې ووځي (په ســفر) درې کســان ، نو دوی دې امير مقرر کړي يو ددوی څخه.د حج په ســفر کې دحجاجو امير د حجاجو معلم او مرشـد دی، چې د وزارت له خوا ورته ټاکل کيږي.او ټولو حجاجو ته په کار دي چې د خپل امير اطاعت وکړي او که کوم حاجي کوم کـار کوي ، بـايـد د خپـل امير څخـه اجازه واخلي.اکثره حجـاج پـه خپل امير پســې نه ځي او د هغه ملګرتيا پريږدي او نورو حجـاجو سره ملګري کيږي . کلـه چې لـه مشــکلاتو سره مخ شي او د خپل معلم او امير سره مخ شي، ورته وايې ته څرنګه معلم يې او ته تر اوسه چيرې وې؟ ماخو هيڅکله ته نه يی ليدلی؟

**٨-د حج يا بل کوم سـفر پر مهال په کافي اندازه د لارې لپاره خرچه او توښـه له ځان سره اخيستل په کار دي:** څوک چې د حج يا په بل سـفر روانيږي د مسـلمان اخلاق دادي چې له ځان سره پوره د لارې توښــه او ښــه زياته خرچه واخلي.ترڅو په لاره کې چاته محتاج نشيــ او هم د حج په ســفر کې د ملګرو حاجتونه پوره کړي.ځکه چې د حج په ورځو کې د الله تعالی په لار کې مال لګول زيات فضيلت لري.الله تعالی فرمايلي دي:(وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى).البقرة:(١٩٧)

ترجمه:او توښه واخلئ (له ځانو سره) نو بېشکه بهتره توښه ځان ساتل دي له سواله.

**٩-په سـفر کې د ملګرو سره د رِفق او مهربانۍ څخه کار اخيسـتل:** د سفر دنيکو اخلاقو او آدابو څخه دادي چې د سفر د ملګرو لپاره هر څه چې په توان کې ولري خرچ کړي او دملګرو خدمت وکړي .

پـه ســفر کې د خوړو خبرو څخه لابدي ده او دوســتانو ته خوراک برابرول او د مکارم الاخلاقو ظاهرولو څخه لابدي ده. سـفر د ناراحتۍ سـبب دی او په ناراحتۍ کې غوره اخلاق کارول د سـفر له غورو اخلاقو څخه دي او په سـفر کې تر ټولو عالي اخلاق د سـفر د ملګرو مرسـته او معونت کول دي او د چا سـپرلۍ چې سـتړې شـوي وي هغه ته لاس ورکول او هغه ته اضـافي سـپرلۍ ورکول دي.

همدارنګه په سفر کې دسفر له ملګرو سره خوش طبعي کول غوره اخلاق دي ، ترڅود سـفر سختي ورباندې اسـانه شي، پرته له دې چې فحش. درواغ او دګناه خبرې وويل شي. موعظة المؤمنين من إحياء علوم الدين (ص: ٢٣٩)

د حج سـفر هم لکه د نورو سـفرونو په شـان سـختي لري ، ځکه په حج کې خصـوصـاً د طواف پر مهال او په مشـاعرو کې د خلکو ازدحـام زيـات وي او اکثره حجـاج پـه دې فکر کې وي ، چې د ملګرو څخـه ورک نشيــ او د حج پـه افعـالو کې يې کوم خلـل او نقصـان رامنځ ته نشيـ، نو په داسـې حالاتو کې حجاج هر ډول مرسـتې ته ضرورت لري، هغوی لارښـوونو ته ضرورت لري،د هغوی څخـه د اسـترس حـالـت بـايـد کم شي، نو پـه دغو ټولو او نورو حـالاتو کې د حجـاجو سره مرســتـه کول او د هغوی سره دمنـاســکو پـه اداء کولو کې کومک کول عالي اخلاق او سرښــندنه ده چې د حج په اداء کولو کې ډير اهميت لري .د افغانســتان

حجاج نسبت د نورو ملكونو حجاجو ته كم حوصـله دي، په هر كار كې له عجلې او زور څخه كار اخلي، اكثره يې بې سـواده دي، د حج له مسئولينو درست اطاعت نكوي . بناءً دوى د هر ډول مرستې مستحق دي.

حضـرت جابر رضــي الله عنه د رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم د حج په اړه وايي:( وَيَقُولُ بِيَدِهِ الْيُمْنَى:« أَيُّهَا النَّاسُ السَّـكِينَةَ السَّكِينَةَ » صحيح مسلم (٤ /٣٩)

ژباړه: او په تحقيق سـره كلك يې نيولى وو(نبي عليه السلام) د قَصْواء (د نبي عليه السـلام داوښـې نوم دى) واګې ؛ ترڅو خلكو ته اذيت ونه رسـيږي تر دې پورې چې د هغې (اوښـې) د سـر (لوړوالى) به د سـپاره كس د كجاوې ځاى ته رسـيدلو. او نبي عليه السـلام بـه ويل خلكو ته او په ښــي لاس يې اشــاره كوله او ويل به يې: اى خلكو! ارامي او نرمي اختيار كړئ ، ارامي او نرمي اختيار كړئ. ( عجله مه كوئ او د ضعيفانو خيال وساتئ او د بدو مقابله په بدو مه كوئ)

الله تعالى ډير لوى اجر په(مبرور) قبول شـوي حج مرتب كړى دى. مبرور د البر څخه اخيسـتل شـوى او د(البر) معنى ده د خلكو سـره نيكي كول لكه چې د النواس بن سـمعان په حديث كې چې راځي: «البر حُسـن الخلق...». (البِرُّ) نيكي نيكو اخلاقو ته ويل كيږي.

امـام نووي رحمـه اللـه ليكلي دي، چې علمـاء وايي: (البِرُّ) كلـه پـه معنى د صــله رحمى راځي، كله په معنى د نرمى راځي او كله دنيكې ملګرتيـا او ښــه تعـامـل پـه معنا راځي او كله په معنا د طاعت راځي او دا ټول كارونه د نيكو اخلاقو مجموعه ده او دغو ټولو كارونو ته په حج كې زياته اړتيا ده. شرح النووي (١٦ /١١١)

**١٠- د حج او په نورو سـفرونو كې د ګناه ، جنګ جګړو، خصـومت څخه ځان ساتل:** د سفر له آدابو او غوره اخلاقو څخه دا هم ده چې مسـلمان بايد د هر هغه قول او فعل څخه ځان وسـاتي چې الله تعالى ورباندې ناراضــه كيږي، لكه ګناه كول، جنګ جګړه كول ، خصــومت كول، غيبـت كول، كنځلې كول ، خلكو تـه په لارو كې مزاحمت ايجادول، قبيحه او ناوړه القاب او الفاظ اســتعمالول، شيطانى كول، مسخرې او ټوكې كول او په هغه څه كې داخليدل چې كومه اخروي ګټه ورباندې مرتب نه وي.

متأســفانه چې زمونږ حجاج د حج په ســفر كې او آن د حج په مناســكو كې دغه ډول كارونه كوي ، چې د حج د قبليدو په مخ كې خنډ واقع كيږي. زمونږ ځينې حجاج د حج په سـفر كې يو بل ته په غضــب كيږي، يو بل ته كنځل كوي، يو د بل سـره په معمولې خبره خصــومت او جګړه كوي، د ســفر په جريان كې وارخطايي كوي او بې نظمي كوي او په هر څه كې د ميزبان دولت له قوانينو څخه سرغړونه كوي.

كه چيرې څوك ورته د صـبر او حوصـلې توصـيه كوي ، ورباندې په قهريږي. ځينې حجاج د حج په سـفر كې خپلو ښـځو ته په قهر كيږي او پوچ او ناكاره الفاظ ورته كاروي.

حـال داچې اللـه تعـالى پـه قرآن كريم كې حجـاج ددغـه ډول كـارونو څخه منع كړي دي. الله تعالى فرمايلي دي:( الْحَجُّ أَشْــهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلا رَفَثَ وَلا فُسُوقَ وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ).البقرة:(١٩٧)

ترجمه: حج (څو) مياشـتې معلومي دي.نو هر چاچې فرض كړ (په خپل ځان) په دې مياشــتو كې حج نو نه دې كوي جماع (او نه دواعي د هغې) او نه ګناهونه او نه جګړې په (ورځو) د حج كې.

اللـه جـل جلاله فرمايلي دي چې څوك به په حج كې (رفث) نه كوي، (فســوق) به نه كوي او (جدال) به نه كوي . يعنې دا كارونه به نه كوئ.غواړم چې ددغو كلماتو د معنا په اړه د مفسرينو نظرونه راټول كړو:

**الف: (فَلا رَفَثَ):** يعنې څوک چې د حج لپاره احرام وتړي ، نو ځان دې وساتي له رفث څخه چې هغه جماع ده لکه چې الله تعالى فرمايلي دي: {أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَائِكُمْ} جائز شوې ده ستاسو لپاره په شپه د روژې کې جماع او کوروالی د خپلو ښځو سره.

همدارنګه حرام شو پر ده باندې دواعي د جماع چې هغه يوځای پريوتل دي او موچه اخيستل دي او په جماع باندې تکلم کول دي . په جماع سره تکلم کول د ښځو په حضور کې هم حرام دي. عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي: الرفث: ښځو ته د جماع لپاره نږدې کيدل او د ښځو او سړو سره په خپلو خولو باندې د جماع په اړه خبرې کول دي.عبدالله بن عباس رضي الله عنه وايې: (الرفث): په تعريض سره د جماع ذکر کول.عطاء به رباح رحمه الله وايي:( الرفث) جماع او د جماع څخه را ټيټ د فحش خبرې کولو ته ويل کيږي.عبدالله بن عباس رضي الله عنه په يو بل روايت کې وايې چې (الرفث): د ښځو سره کوروالی کول. تفسير ابن کثير (١ /٢٩٤-٢٩٥)

**ب: (الفسوق):** عبد الله بن عباس رضي الله او نور مفسرين وايې چې د (الفسوق) څخه مراد ګناهونه دي. يعنې په حج کې به ګناهونه نه کوئ. عبدالله بن عمررضي الله عنه وايي، چې( الفسوق) هغه ګناهونه دي چې انسان ورته لاس رسی لري، لکه ښکار کول يا داسې نور. نور مفسرين وايې چې دلته د(الفسوق) څخه کنځل کول مرادي. يعنې په حج کې به يو بل ته کنځل نه کوئ.

امام ضحاک رحمه الله وايي: چې د (الفسوق) څخه يو بل په بدو القابو يادول دي . خو حافظ ابن کثير وايې چې راجح قول دادی چې د الفسوق څخه ټول ګناهونه او د الله تعالی د حکمونو څخه نافرماني مرادده. تفسير ابن کثير (١ /٢٩٥)

**ج: (ولا جدال في الحج):** ددې آيت په تفسير کې دوه قولونه موجوددي: لومړی قول: د حج په وخت کې نشته جدال او مجادله ؛ ځکه الله تعالى د حج وقت او مناسک پوره بيان کړي او په پوره ډول يې توضيح کړي دي. امام مجاهد وايې: {وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ} بيشکه الله تعالی د حج مياشتې بيان کړي دي ، نو نشته په دې کې جدال د خلکو په منځ کې.

دوهم قول: دوهم قول دادی چې د(ولا جدال فی الحج) څخه خصومت او جنګ جګړې مراددي. عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ددې آيت{وَلا جِدَالَ فِي الْحَجِّ} په تفسير کې وايي: هغه داسې چې ته جګړه او شخړه وکړې د خپل ملګري سره ، تردې پورې چې ته هغه په غضب راولې.

عبدالله بن عمر رضي الله وايي: جدال په حج کې کنځل کول ، شخړې کول او خصومتونه کول دي. تفسير ابن كثير (١ /٢٩٦)

**١١-د حاجت د پوره کيدلو څخه وروسته وطن او کورته بې درنګه ستنيدل:**

کله چې د مسافر حاجت پوره شي، نو سُنت طريقه داده چې مسافر بايد پرته له درنګ څخه کورته راستون شي. په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:«السَّفَرُ قِطْعَةٌ مِنْ الْعَذَابِ يَمْنَعُ أَحَدَكُمْ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ وَنَوْمَهُ فَإِذَا قَضَى نَهْمَتَهُ فَلْيُعَجِّلْ إِلَى أَهْلِهِ». صحيح البخاري ت (٤ /٤٢٥)

ژباړه: سفر د عذاب يوه ټوټه ده ، منع کوي يو له ستاسو څخه د خپل طعام څخه او څښاک خپل څخه او د خوب خپل څخه، کله چې پوره کړ(مسافر) حاجت خپل، نو بايد عجله دې وکړئ خپل اهل ته (يعنې ژر دې خپلې کورنۍ ته رجوع وکړې).

**۱۲-کله چې کورته د راتللو اراده وکړي ، نو کور ته دې ناڅاپي نه راځي:**

سُــنت طريقه داده چې څوک کور ته د راســتنيدو اراده وکړي، نو ناڅاپه د شــپې دې کور ته نه راځي، بلکې لومړی دې خپل اهل وعيال د خپل راتګ څخه خبر کړي او په ورځ کې دې کور ته راشي.

کله چې خپلې محلې ته داخل شــي، نو لومړی دې مســجد ته لاړشــي او په مســجد کې دې د ســفر څخه د راســتنيدو دوه رکعته لمونځ په غير مکروه وخت کې وکړي. په حديث شــريف کې راځي: عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صــلى الله عليه وســلم- كَانَ لاَ يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلاَّ نَهَارًا فِى الضُّحَى فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيهِ. صحيح مسلم(۲ /۱۵٦)

ژباړه: د کعب بن مــالک رضـــي الله عنــه څخــه روايت دی، هغه وايې چې بيشــکه د نبي عليه الســـلام (دا عادت ؤ) چې نه به راســتنيدلو د سفر څخه ، مګر په ورځ کې په څاښــت کې ، کله به چې راســتون شــو (کلي ته) نو پيل به يې وکړ په مسجد باندې ، په مســـجد کې به يې دوه رکعته لمونځ وکړل، بيا به کيناســـتلو په مســـجد کې. بيا به چې کور ته راتللو، نو ملاقات به يې کيدلو دخپلې کورنۍ له ماشومانو سره . په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَـفَرٍ تُلُقِّيَ بِالصِّـبْيَانِ مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ قَالَ وَإِنَّهُ قَدِمَ مَرَّةً مِنْ سَـفَرٍ قَالَ فَسُـبِقَ بِي إِلَيْهِ قَالَ فَحَمَلَنِي بَيْنَ يَدَيْهِ قَالَ ثُمَّ جِيءَ بِأَحَدِ ابْنَيْ فَاطِمَةَ إِمَّا حَسَنٍ وَإِمَّا حُسَيْنٍ فَأَرْدَفَهُ خَلْفَهُ قَالَ فَدَخَلْنَا الْمَدِينَةَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ. مسند أحمد(۳ /۲۷۲)

ژباړه: عبدالله بن جعفر رضـــي الله عنه وايې، چې د نبي عليه الســلام دا عادت ؤ ،چې کله به د ســفر څخه راغی ، نو اســتقبال به يې وشــو د خپلې کورنۍ په ماشومانو سره (يعنې ماشومان به يې مخې ته ور واستول شول) . حضرت عبدالله بن جعفر رضـــي الله وايي: بيشــکه نبي عليه الســلام يو ځل د ســفر څخه راغی، نو زه ورته ور مخې ته کړی شــوم. عبدالله بن جعفر رضـــي الله وايې: نو زه يې اوچت کړم خپلې ســپرلې ته او زه يې کينولم خپلې مخې ته. بيا راواســتل شــول دفاطمې رضـــي الله عنها يو زوی چې يا خو حســن ؤ او يا حسين رضـي الله عنهما ؤ ، نو هغه يې په سپرلۍ شاته کينولو . حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه وايې مونږ داخل شو مدينې منورې ته (يا ښار ته) درې واړه په يوه سپرلۍ باندې.

**۱۳-د ســفر څخه د راســتون شوي شخص لپاره مخصوصه ډوډۍ(النَّقِيعَةُ) تيارول سُنت دي:** څوک چې د سفر څخه راوګرځي ، نو دکور خلکو ته په کار دي چې دسفر څخه د راستون شوي شخص لپاره ډوډۍ تياره کړي .

په حديث شــريف کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِــيَ اللَّهُ عَنْهُمَا« أَنَّ رَسُــولَ اللَّهِ صَــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَحَرَ جَزُورًا أَوْ بَقَرَةً» صحيح البخاري ت (۸ /۸۵)

ژباړه: د حضـــرت جابربن عبدالله رضـــي الله عنهما څخه روايت دی. هغه وايې چې بيشــکه کله به چې نبي عليه الســلام مدينې منورې ته له سفر څخه راستون شو، نو ذبح به يې کړ اوښ او يا به يې ذبح کړه غوا.

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولکم ولسائر المسلمين**

**والسلام عليکم ورحمة الله وبرکاته**